**د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته**
**د سرمنشي د سرپرست ځانګړي استازي، رامز علی اکبروف وینا**

**نیو یارک، ۲۳ جون ۲۰۲۲**
[څرنګه چې وړاندې شوې]
***

ښاغلی رئیس،

مننه چې ما ته مو د دې فرصت راکړ چې نن له کابل څخه د یوناما د سرپرست په څېر شورا ته وینا وکړم. لکه څرنګه چې تاسو د خپلې وینا په پرانسته کې د دې یادونه وکړه چې پرون یوې خونړۍ زلزلې د سهار په لومړیو ساعتونو کې په داسې حال کې د پکتیکا ولایت ولړزاوه چې خلک ببده وو. تر دې دمه چې موږ وروستي معلومات ترلاسه کړي، د نږدې ۸۰۰ وګړو مړینه تایید شوې او له څوارلس سوو زیات نور ژوبل شوي، چې د زیاترو ټپونه جدي دي، او په زرګونو کورونه ویجاړ او زیانمن شوي. د پلټنې او ژغورنې عملیات رواني دي او د دې تمه کېږي چې په راتلونکو ورځو کې به د مرګ ژوبلې او د ځپل شویو ټولنو شمېر لا پسې لوړ شي. تر زلزلې وروسته، د بشري مرستو فعالینو له بر حاله چارواکو سره یو ځای چټک غبرګون بسیج کړ، چېرې چې د دفاع وزارت په رهبرۍ کې ده او امبولانسونه، طبي سامان آلات، د تروما بستې، درمل، ګرځنده روغتیايي ټیمونه او د ګېډیو، کمپلو، پلاستیکي ترپالونو او خوړو مرستو په ګډون بیړني تدارکات لېږدوي. تر پېښې وروسته د ساعتونو په د ننه کې د ادارو د ارزونې ګډ ټیمونه په ساحه کې دي او د بشري غبرګون په همغږي کولو او ښه ورکولو کې مرسته کوي.

د راتلونکو ۲۴ ساعتونو په د ننه کې، زه به له ځپل شویو سیمو لیدنه وکړم، چېرې چې به زه له اغېزمن شویو کورنیو، لومړی لاس مرسته کوونکو لکه د مدني ټولنې ښځینه ګروپونو سره وګورم څوک چې د دې لپاره کار کوي څو ډاډمن کړي چې مرستې ښځې او نجونو ته رسیږي، او د مرستو له عمومي هلو ځلو به ملاتړ وکړم. زه به هلته د ملګرو ملتونو د ادارو له مشرانو سره چې په مستقیم ډول ټولنو او افغان وګړو ته مرستې رسوي، په ساحه کې به له مدني ټولنې نبولې تر نړیوالو ټولنې پورې له مرستندویه ادارو سره یو ځای په ګډه کار کوم. د دوي هڅې موثرې او د ستاینې وړ دي. زه په تیرو دوو ورځو کې د دوی د اتلولۍ د کارونو ستاینه کوم.

زه ډاډه یم چې تاسو ټول به موافق یاست چې پرون د هغو بې شمیره خطرونو یو بل غمجن یادګار و چې اوس مهال افغانان ورسره مخ دي. د افغانستان خلکو، د وژل شویو کسانو کورنیو او خپلوانو ته د زړه له کومې تسلیت وړاندې کوم او ټپیانو ته د بېړنۍ روغتیا هیله کوم.

ښاغلی رئیس،

که څه هم زما د نن ورځې وینا به پر نورو هغو بېړنیو حالاتو متمرکزه وي له کومو سره چې نن ورځ افغان وګړي مخ دي، د چهار شنبې ورځې زلزله یې یوازې یوه هغه ګڼل کېږي. دغه بیړني حالات په دې ډول دي: د بشري حقونو وضعیت. اقتصادي ناورین. روان بشري ایمرجنسي. او په پاې کې، له برحاله چارواکو سره د دوامدار تعامل اړتیا.

اجازه راکړئ چې له بشري حقونو پې پیل کړم. په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت لا اوس هم خطرناک دی. د برحاله چارواکو له خوا د عمومي عفوې له تصویب او له تکراري ډاډګیرنو سره سره چې درناوی یې شوی، یوناما لا اوس هم د وژنو، ناوړه چلند او نورو سرغړونو داسې باوري ادعاوې ترلاسه کوي چې د افغانستان له پخوانیو حکومت سره تړلې اړوند اشخاص په نښه کوي. یوناما همدارنګه د برحاله چارواکو له خوا د هغو اشخاصو په وړاندې چې له وسله والو مخالفینو او د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې سره پر تړاو تورن وي د ترسره شویو سرغړونو باوري ادعاوې ترلاسه کوي. د دغه

ډول سرغړونو د مخنیوي په پار د برحاله چارواکو له خوا لا زیات کار ته اړتیا ده څو په ډاګه کړي چې د دغو سرغړونو د ترسره کېدو پرمهال مرتکبین حساب ورکوني ته راغوښتل کېږي.

برحاله چارواکو په زیاتېدونکې ډول د بنسټیزو بشري حقونو اعمال محدود کړي، لکه د سوله ییزو غونډو او لاریونونو آزادي، د نظر او بیان آزادي، د مخالفینو ځپل او په هیواد کې د مدني فضا محدودول.

دغه محدودیتونه په ځانګړي ډول د افغان میرمنو او نجونو حقونه او آزادي ګانې په نښه کوي، چې په ټولنیز، سیاسي او اقتصادي ژوند کې د هغوی ښکیلتیا محدودوي. په دې کې تر ټولو څرګند هغه یې د نجونو لپاره له شپږم ټولګي پر پورته زده کړو بندیز او پر ښځو د مخ د اجباري پټولو پرېکړه ده، د کومو په اړه چې تاسو ته د سرمنشي د پخوانۍ ځانګړې استازې دیبورا لاینز له خوا مفصل معلومات وړاندې شوي. د اقتصاد لپاره د دغو پالیسیو بیه خورا درنه ده. د مثال په ډول، له زده کړو د منع کېدو اروایي او ټولنیزې بیې د محاسبې وړ نه دي. ښځې په ټولیز ډول له ټولنې څخه په داسې ډول تجرید او ګوښه شوي چې په نړۍ کې بې ساري دي.

اجازه راکړئ شورا ته د دې ډاډ ورکړم چې یوناما به د افغان وګړو په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو د حقونو د خوندیتوب او ملاتړ لپاره یو رسا او ښکاره غږ پاتې شي.

ښاغلی رئیس،

دویمه موضوع چې غواړم یادونه یې وکړم روان اقتصادي بحران دی. دا په افغانستان کې یوازینۍ یو تر ټولو مهمه موضوع ده، چې د شخړې او بدبختیو یو بالقوه لامل ګڼل کېږي. افغان اقتصاد له اګست راهیسې په اټکلي ډول له ۳۰ تر ۴۰ سلنې راپرېوتی؛ محصولات او عواید ۲۰-۳۰ راکم شوي، په داسې حال کې چې د هغو کورنیو شمېر له بهره ورته پېښې راتلې، ۵۰ سلنه رالویدلی. د دې شونتیا شته چې روان کال بې روزګاري په ۲۰۲۱ کال کې د ۱۳ سلنې په پرتله ۴۰ سلنې ته ورسیږي، او ځینې وړاندوینې په ډاګه کوي چې د ۲۰۲۲ کال تر پایه به د بې وزلۍ کچه تر ۹۷ سلنې پورې لوړه شي. تر دې لا زیات هېښوونکی دا چې ۸۲ سلنه کورنۍ اوس پوره وړې دي، په داسې حال کې چې خرابېدونکی اقتصاد له پور څخه د خلاصیدو لپاره خورا کم فرصتونه برابروي. د ګوزاره کولو هغه منابع چې له زیات شمېر کورنیو سره یې د تیر ژمي له سختیو او بشري وضعیت څخه په تېریدو کې مرسته کړې، اوس له منځه تللي.

که چېرې اقتصاد و نه کولی شي ورغېږي او د پام وړ او دوامداره وده و نه کړي، افغان وګړي به له تکراري بشري ناورین سره مخ شي؛ په بالقوه ډول به پراخه کډوالي وپاروي او د سخت دریځی او د دویم ځل وسله والې جګړې لپاره به حالات چمتو کړي.

په ورته حال کې، افغانستان په لوړه کچه د راتلونکي اقلیمي بدلون او جیوپولیټیک ټکانونو په وړاندې زیانمنېدونکی ګڼل کېږي. دغه چاره د افغانستان په کلیوالي سیمو کې د خورا بې وزلۍ او وروسته پاتې والي پر سر راځي، چیرې چې تولیدات ټیټ دي، او ښوونیز او روغتیایي خدمتونه زیاتره په نشت حساب دي. اجازه راکړئ چې خورا روښانه و اوسم، دغه ستونزې د ټولو ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي معضلو ریښه ده چې افغانستان ور سره په تیرو وختونو کې او اوس مهال مخ دی. که چېرې ټاکل شوې وي چې په یوه معین وخت کې په افغانستان کې مختلفې ټولنیزې او اقتصادي پایلې تر لاسه شي، دغو معضلو ته باید رسیدګي وشي. اوس مهال، افغانستان په پرلپسې کلونو کې له دویمې وچکالۍ سره مخ دی، په داسې حال کې چې را څرګندېدونکې ګواښونه لکه سیلابونه او د ناروغیو شیوع، همدارنګه د ملخانو او څارویو ناروغۍ (پر کرنه متکې ټولنې او کورنۍ اغیزمنوي) د طبیعي پیښو لکه د وروستۍ زلزلې له یادونې پرته، له پخوا څخه موجود زیانمنتوبونه لا پسې ژور او ناوړه کوي.

پرته له هغه څه مونږ یې تر سره کوو، پر کرنیزو- غذایي سیستمونو بانديې له تمرکز سره د افغانستان کلیوالي سیمو ته باید د پاملرنې لومړیتوب ورکړل شي ترڅو د لوړې د دورو مخه ونیول شي. موږ باید پر ولس مبتني په اقتصادي بیا رغونه کې مرسته

وکړو کومه چې د ارزښت په زنځیرونو او د کروندګرو او د خوړو د تولیدوونکو او ځایي بازارونو ترمنځ د اړیکو په رامنځ ته کولو کې نغښتې ده. دغه کار به په خپل وار د ماشومانو د کار په راکمولو، د روغتیایي محصولاتو په ښه کولو کې مرسته وکړي او د ټولنیزې پراختیا او بدلون لپاره به یو مساعد چاپیریال رامنځ ته کړي. دغه کار به همدارنګه د کوکنارو د کښت پر ځای د کرنې د بدیل لپاره هم لار هواره کړي، او زموږ لپاره به د دې فرصت برابر کړي چې د کوکنارو او نشه یي توکو پر کښت د برحاله چارواکو له وروستي بندیز څخه ګټه پورته کړو. د دغه کار د ترسره کولو پرمهال موږ همدارنګه باید له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو پاکولو ته کافي پاملرنه وکړو. د اقتصادي بیارغونې لپاره دغه تصاعدي کړنلار د برحاله چارواکو له خوا شریکه شوې او له تر ټولو زیاتو زیانمنېدونکو سره به مرسته وکړي.

د ملګرو ملتونو هیوادنی ټیم لا وار د مخه په کلیوالي سیمو کې د ټولنې پر بنسټ د کړنلارې له لارې چې د ځایي ټولنو او کوچنیو تشبثاتو لپاره تخنیکي او مالي ملاتړ تنظیموي، ځایي کوچنۍ زیربناوې رغوي، او په ټولنه کې تر ټولو د زیاتو زیانمنیدونکو لپاره اساسي عاید برابروي، دغه ډول کړنلارې تطبیقوي. له دې سره سره، د اقتصادي رغونې د دغه ډول فعالیتونو تمویلونه لا تر اوسه کمه ده. موږ ستاسو ملاتړ ته اړتیا لرو.

ښاغلی رئیس،

کله چې زه او د ملګرو ملتونو د مشرتابه لوړ پوړی ټیم د هیواد مختلفو برخو ته سفر کوو او له زیانمنېدونکو اغیزمن شویو ټولنو سره ګورو، تر سره کېدونکې خبرې اترې یو دوامدار تاثیر پرېباسي. اجازه راکړئ چې ځینې یې له تاسو سره شریک کړم.

افغان کورنۍ د بشري مرستو د غبرګون له لارې چمتو شوې مرستې او ملاتړ لپاره خاکسار او منندوی دي، خو له دې سره سره په دې وروستي پېښه کې کوم څه چې د څلویښت کلن ناورین په څېر دوام کړی، ټول یې درې مستقیمې، ساده او صادقانه غوښتنې لري:

- دوي روزګار او د عاید رامنځ ته کول غواړي، څو وکولی شي ژوندي پاتې شي.
- دوي د اقتصادي ناورین لپاره یو اوږد مهالي غبرګون غواړي – یو داسې غبرګون چې د هغوي لپاره د ژوندي پاتې کیدو باعزته وسیلې او راتلونکې ته د لیدو فرصت برابروي.
- دوي خوندیتوب غواړي، نه یوازې د خپلو ځانونو لپاره بلکې د خپلو عزیزانو لپاره هم، او دغه خوندیتوب همدارنګه د ښځو او نارینه وو لپاره د خوځښت د آزادۍ په مانا دی.

د دغو غوښتنو تحقق او تر لاسه کول، آن په اوسني عملیاتي چاپیریال کې، باید زموږ په لاس کې و اوسي.

د مرستندویانو د سخاوتمندانه ملاتړ په مټ، بشري ټولنې د افغانستان ستر بشري ناورین ته د بې ساري او نا پیش بینۍ شویو مبلغونو او کچو غبرګون همغږي کړی دی.

د ۲۰۲۲ کال د جنوري او د اپریل تر پای پورې، د بشري مرستو همکارې ادارې د بشري مرستو لږ تر لږه یوې بنې سره ۲۰ میلیونه وګړو ته رسیدلې، د دې له جملې د 19.3 میلیون زیانمنیدونکې هغه وو چې بشري اړتیاوې یې درلودې، 247,000 هغه یې له پولې ها خوا راستنېدونکې، 75,000 کډوال او 95,000 هغه خلک وو چې د سیلابونو او په هوا پورې د اړوندو پېښو له امله اغیزمن شوي وو.

له ۱۹ میلیونو څخه زیاتو وګړو ته خواړه، له ۵ میلیونو زیاتو وګړو ته روغتیایي مرسته، تر پنځه کلنۍ کښته ۳ میلیونه ماشومانو او امیندوارو او شیدې ورکوونکو ښځو ته د شدیدې خوار ځواکۍ درملنه، ۳.۳ میلیونه وګړو ته د څښاک پاکې اوبه او حفظ

الصحه، ۳۷۴۰۰۰ ماشومانو ته تعلیمي ملاتړ، ۱.۲ میلیونه وګړو ته سرپنا او د کورنۍ مواد او له ۲ میلیونو زیاتو وګړو ته حمایتي مرسته برابر شوي. دا ټول د نړیوالې ټولنې د سخاوتمندانه مرستې له برکته ترسره شوي.

له دغو لاسته راوړنو سره سره، بشري ناورین لا اوس هم شتون لري او د ۲۰۲۲ او د ۲۰۲۳ کال په موده کې د دوامدار ملاتړ غوښتنه کوي. تاسو به د بشري اړتیاوو په اړه لا زیات مفصل معلومات نن سهار ناوخته له ښاغلي مارتین ګریفتس څخه ترلاسه کړئ.

څلورم، ښاغلی رئیس،

له هغو ستونزو سره سره چې ما توضیح کړې، موږ په ټینګه باور لرو چې د افغان وګړو او همدارنګه د سیمه ییز او نړیوال امنیت لپاره د دوامدار تعامل او خبرو اترو ستراتیژي یوازینۍ حل لار ګڼل کېږي.

اجازه راکړئ دلته په سیاسي چارو کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي د نوي ځانګړي استازي معاون په توګه د آلمان د سفیر مارکوس پوتزیل د ټاکل کېدو هرکلی وکړم چې د سیاسي تعامل د ستراتیژۍ د رهبري کولو مسوولیت به پر غاړه ولري.

دلته پر یو څو نورو ټکو پوهېدل مهم دي؛ طالبان لا اوس هم تقریبا په انحصاري ډول د قدرت نیول جاري ساتلي. د وسله وال مخالفت راڅرګندېدنه او شتون تر ډېره د سیاسي محرومیت له امله دی. په عمومي ډول امنیتي وضعیت ورځ تر بلې د پیش بیني وړ نه دی. موږ د برحاله چارواکو او د وسله وال سیاسي مخالفت د ځواکونو ترمنځ د نښتو په ځانګړي ډول په پنجشیر او بغلان ولایتونو کې او د بر حاله چارواکو د اهدافو په وړاندې د دواړو وسله وال سیاسی مخالفت او د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا د لاس جوړ چاودېدونکو وسیلو د بریدونو او هدفي وژنو شاهدان یو. د برحاله چارواکو په وړاندې د وسله وال مخالفت بریدونه د مۍ د میاشتې په پرتله په اپریل کې دوه برابره زیات شوي. د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې د بریدونو شمیر د تېر کال د ورته مودې په پرته په عموم ډول راکم شوی، خو د هغوي جغرافیایي محدوده د پخوانۍ شپږو ولایتونو په پرتله ۱۱ هغو ته پراخه شوې. که چیرې خلک له خپلو حقونو محروم شي او دوي په خپل حکومت کې ځانونه ونه ویني، موږ نشو کولی د بې ثباتۍ د زیاتوالي شونتیا رد کړو.

زموږ ستراتیژي په راتلونکې میاشت کې د اوږدې مودې لپاره سیاسي مشورې او شمولیت ته د ودې ورکولو په لټه کې ده. په عین حال کې، موږ له برحاله چارواکو سره تعامل کوو څو زموږ په اړیکو کې د وړاندوینې وړتیا زیاته کړي. سره له دې چې نړیواله ټولنه او طالبان د بشري، ښځو او سیاسي حقونو په اړه له یو بل څخه په واټن کې دي، ځینې داسې ساحې شته چې موږ کولی شو د پکې افغانانو د ژوند د ښه کولو لپاره همکاري وکړو او د ګډو اندېښنو په موضوعاتو لکه له نشه يي توکو سره مبارزه او ماین پاکي په برخه کې سره مخ ته لاړ شو. د مشترکو ګټو د اجنډا رامنځ ته کول به د باور په رامنځ ته کولو او ناسم پوهاوي په کمولو کې مرسته وکړي. په دې کې د مرستې هغه ډولونه شامل دي چې په مستقیم ډول له بنسټیزو بشري اړتیاوو سره مرسته کوي، په داسې حال کې چې د امکان تر حده د بنسټیزو بشري اړتیاوو سره سم، لکه څنګه چې پورته تشریح شوي، د عادي افغانانو لپاره له سوچه بشردوستانه رسونې ور هاخوا پایښت لرونکو معیشتونو ته لار مومي.

ښاغلی رئیس،

په مخ کې پرتې راتلونکې ننګونې سترې دي او لا زیات زغم ته اړتیا لري. خو موږ يې باید وزغمو. دا لې تر لږه هغه څه دي چې افغان ولس يې مستحق ګڼل کېږي. موږ پر دې باور یو چې دا د دوی د ګټو او د نړیوالې ټولنې د ګټې لپاره یوازینۍ لار ده.

له پاملرنې مو مننه.

**پای**